خــــــــــورشید عطائی


تورونتو ـ ۲۴ فبروری ۲۰۱۵

## زما موري

اي زما رنځـــــوري موري     وی د خلـــــــکو خدمتکاره
په منزل کــــي دي تنها وي     بي له يـــــــار او مددگاره
ژړيدلي خــــــــــواره زاره
کـــــــــــــړيدلي ناکراره
ظـــــــالمانو د زمان کوم     گـــــــــذارونه چي درکړي
خدايږو توان په چا کي نه وي     چي په زړه يي کـــړي تکراره
ته مــــــړه نه يي نن يکباره
وژل شوي يـــــي سل واري
قــــــرباني د خپل اولاد وي     آرمانـــــونه دي وو ډېر ډېر
نامـــــــــراده شولي موري     د مرگـــــــــــي په دام ايساره
چــــــــي قسمت دي ؤ بيماره
گيله مه کـــــــــــوه له ياره
په هجــــران د خپل وطن دي     سوزيـــــدي په سور انګاره
په وطـــــــنه وي نا راخوبنه     ستا غمــــــونه وو بي شماره
زما ښکـــــــلي خوش گفتاره
ولي چـــــــوپه شوي يکباره

موري تاته مــــــې وعده ده     چــې ارمان به دې پوره شي

د خــــــورشيد رڼا به ورکړم     کوم چـــــې ستا وه هغه لاره

دښمــــــــــنان که دې مکاره

ستا دعــــــــــــا زما ده یاره

په تا هیڅـــــــوک خبر نه وو     چې ته ځــــومره وې افګاره

په مزار به دې ښکـــلا شي     د خــــــــــــاټولو له ګلزاره

ګیله منـــــــــده له روزګاره

په سینه بانـــــــدې داغداره